سمیع الدین افغاني ۲۰۱۸/۱۱/۱۱

# وروړګلوی

ځینې، ځینې په نامه باندې افغان دي
په باطن کې ددې خاورې دښمنان دي
په هویت د افغانیت باندې شرمیږي
ځینې اوس لا په قدرت کې حاکمان دي
د تعصب او د نفاق اور یې بل کړی
ډیر بې رحمه پردي پاله ظالمان دي
ترحم یا څه انصاف په دوئ کې نشته
د پردو پټ اوښکاره جیره خواران دي
نـه د سر نـه د چا مال امن خوندي دی
بې احساسه ډیر بی رحمه انسانان دي
اوس افغان ولس یـو شوی بیدار شوی
شي رسوا به کوم هغه چې خاینان دي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د حساب ورځ ده راتلونکې لرې نده

پـه کوم چاچـې زورولـي افغانان دي

افغاني په ورورګلوۍ کې مو بريا ده

هريو خيل مو د يوې باغچې ګلان دي

۲۰۱۸/۱۱/۱۱ م

ورورګلوۍ

Afghani_samehuddin_woror_galwai.pdf